بسم الله الرحمن الرحيم

# په څارویو کې زکات

**(ژباړه)**

پوښتنه: علي السعيدي

زموږ د قدر وړ شېخ صاحب! السلام عليكم ورحمته الله وبركاته

الله سبحانه وتعالی دې په هڅو کې برکت واچوه او الله سبحانه وتعالی دې ستاسو پر مټ برى راولي. د خلافت دولت مالي سرچینې کتاب، د زکات د برخې په ۱۵۳مخ کې د څارویو د زکات په فصل کې راغلي: «په څارویو کې زکات؛ د غوایي زکات هغه وخت فرض کېږي چې نږدې یو کال په څړځای کې څرېدلی وي. دغه راز د دې کتاب په ۱۵۵مخ کې راغلي: د پسونو زکات هغه وخت فرض کېږي، چې د کال ډېره برخه په څړځای کې څرېدلی وي، په هغه صورت کې چې د شپانه مسوولیت ټول کال همداسې په لړه کچه وي.

پوښتنه دا ده چې ایا په هغو پسونو او غوایانو زکات نشته، چې له څړځایونو نه تغذیه کېږي او د مړولو لپاره یې د کال په جریان کې پیسې لګیږي؟ که پر دغه ډول څارویو زکات وي، نو څومره به دی؟

بله پوښتنه دا ده چې ولې په څارویو کې زکات د غوایي، پسه او اوښ په اړه یاد شوی او د مرغانو په ځانګړي ډول د چرګانو په اړه څه نه دي ویل شوي، چې په عصري خونو (فارمونو) کې زرګونه شمېر ساتل کیږي؟ ایا دوی د معاملاتو برخه دي؟

الله سبحانه تعالی دې زما د پوښتنو د ځوابولو په بدل کې اجر درکړي، والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمته الله وبرکاته!

۱ـ هو؛ په هغو پسونو او غوایانو کې زکات نه شته چې په څړځای کې نه څریږي، بلکې په مړولو یې لګښت راځي. ځکه «څرېدل» یو صفت دی او دا مفهوم افاده کوي چې دغه صفت د زکات د حکم لپاره علت دی. دغه ډول صفت د شي له ذاتي صفتونو څخه په یوه صفت پورې شرعي حکم تړي. دا خبره پر دې دلالت کوي؛ کله چې دغه ځانګړی صفت نفي شي، نو د شي له ذات څخه هم حکم نفي کیږي. د دغه صفت لپاره ـ چې د علت

شتون افاده کوي ـ شرط دا دی چې باید په بشپړ ډول څرګند وي. خو که صفت بشپړ څرګند نه وي او د علت شتون افاده نه کړي، نو دغه ډول صفت اعتبار نه لري. زه بیا ځلې وایم؛ د صفت لپاره شرط دا دی چې باید په بشپړه ډول څرګند وي. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایلي دي: «**... فِي صَدَقَةِ الغَنَمِ فِي سَائِمَتِهَا..**» **ژباړه: "... په څرېدونکو پسونو کې زکات..."** (رواه البخاري) د "پسه" لفظ د شي ذاتي نوم دی چې هغه دوه صفتونه لرلای شي. څرېدل او یا په کور کې په وښو ساتل کېدل. د زکات فرضیت یې د څرېدلو په صفت پورې تړلی دی، نو دا پر دې دلالت کوي چې په کور ساتلو پسونو کې زکات فرض نه دی.

۲ـ هغه بله پوښتنه چې د مالدارۍ په پسونو، غوایانو او اوښانو کې زکات شته او په نورو حیواناتو لکه مرغانو، چرګانو او داسې نورو کې زکات نه شته، ځکه په نصوصو کې یواځې یاد څاروي بیان شوي او مونږ هم دغه ارزوو او پر هغو بسنه کوو. د یادو درې ډوله حیواناتو په اړه نصوص په دې ډول دي:

ابوذر رضی الله تعالی عنه له ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه څخه او هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي، چې هغه وفرمایل:

**«ما من صاحب إبلٍ، ولا بقرٍ، ولا غنمٍ، لا يؤدي زكاتها، إلاّ جاءت يوم القيامة، أعظم ما كانت، وأسمن، تنطحه بقرونها، وتطؤه بأخفافها»**

(متفق علیه)

***ژباړه:*** *د اوښانو، غوایانو او پسونو هغه څښتن چې د خپلو مالونو زکات نه ورکوي، دغه څاروي به د قیامت په ورځ په داسې حال کې راشي، چې د دنیا له حالت څخه به لوی او چاغ وي، دی به په ښکرو وهي او تر پښو به یې لاندې کوي.*

ابوذر رضی الله تعالی عنه له ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه اوږده حدیث کې وفرمایل:

**«... وفي سائمة الغنم إذا كانت أربعين، ففيها شاة...»**

***ژباړه:*** *له څرېدونکو پسونو څخه چې شمېر یې څلوېښتو ته ورسېږي، یو پسه باید په زکات کې ورکول شي...*

حضرت علی کرم الله وجهه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي:

**«ليس في البقر العوامل صدقة»**

***ژباړه:*** *د ځمکې په خړوبوونکو (له ارهټ څخه اوبه راویستونکو) غوایانو کې زکات نه شته.* (دا روایت ابو عبید او بیهقي نقل کړی دی)

عامر ابن دینار وایې چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي، چې ویې فرمایل:

«**ليس في الثور المثيرة صدقة**» ***ژباړه:*** *په کولبه کوونکو غوایانو کې زکات نه شته* (دا روایت ابو عبید کړی دی) او جابر ابن عبدالله له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي: «**لا صدقة على مثيرة**» ***ژباړه:*** *په کولبه کوونکو غوایانو کې زکات نه شته.* کولبه کوونکي غوایان هغه دي چې ځمکه اړوي او د کرنې لپاره یې چمتو کوي.

حاکم په خپل کتاب «المستدرک» کې د بهز ابن حکیم په روایت دوه حدیثونه نقل کړي، چې هغه له خپل پلار او هغه له خپل نیکه څخه روایت کوي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې ویې فرمایل:

**«...في كل إبل سائمة في كل أربعين ابن لبون...»**

***ژباړه:*** *له څرېدونکو اوښانو څخه په هرو څلوېښتو کې یو دوه کلن جونګی د زکات په توګه فرض دی... .*

څرېدونکي څاروي هغه دي چې له وښو او غذا ورکولو پرته په څړځایونو او کروندو کې څرېږي او پخپله ځان مړوي.

۳: له همدې امله په یادو درې ډوله حیواناتو کې زکات فرض دی لکه څرنګه چې یې مخکې یادونه وشوه. زکات یوازې په هغو څرېدونکو څارویو کې فرض دی، چې تر یوه کال ډېر څرېدلي وي.

په نصوصو کې په نورو څارویو، مرغانو او یا سمندري حیواناتو کې د زکات فرضیت نه دی بیان شوی او یوازې په یادو څارویو کې د زکات د فرضیت یادونه شوې ده. هغه حیوانات چې د سوداګرۍ لپاره وي په هغو کې هم زکات فرض دی او د مالیاتو کتاب، د معاملاتو زکات په فصل کې یې یادونه شوې ده.

۴: په پایله کې باید ووایم چې له پسونو، غوایانو او اوښانو پرته په نورو څارویو کې هېڅ زکات نشته. خو کله چې څاروي د سوداګرۍ له توکو څخه وي، یعنې د پېر او پلور لپاره وي په هغو کې زکات شته.

هر هغه شی یا تولید که هغه غلې دانې، جامې، څاروي یا بل شی وي او د سوداګرۍ لپاره کارول کېږي د هغوی د زکات په تړاو نصوص راغلي دي:

**«أما بعد، فإن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يأمرنا أن نخرج الصدقة من الذي نعد للبيع» (ابو داود)**

*__ژباړه:__ له سمره ابن جندب څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته په هغو شیانو کې د زکات ورکولو په اړه امر کاوه چې د سوداګرۍ لپاره به وو.*

له ابوذر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**وفي البَزِّ صدقته**» *په نساجي (اوبدل شویو ټوکرانو) کې زکات شته* (دارقطني او بیهقي) له نساجي څخه موخه جامې او هغه جامې چې د سوداګرۍ لپاره وي ده.

ابو عبید له ابو عمره ابن حماس او هغه له خپل پلار څخه روایت کوي چې ویل یې:

**«مرّ بي عمر بن الخطاب، فقال: يا حماس، أدّ زكاة مالك، فقلت: ما لي مال إلاّ جعاب، وأدم. فقال: قوّمها قيمة، ثمّ أدّ زكاتها»...»**

*__ژباړه:__ عمر ابن خطاب رضی الله تعالی عنه زما تر څنګ تېر شو او راته ویې ویل: اې حماسه!، د خپلو پیسو زکات ورکړه. ما وویل: زه پیسې نه لرم پرته له دغه یوه بکس او د بکس له پوښ څخه. راته ویې ویل: د هغو قیمت وسنجوه او د ارزښت له مخې یې زکات ورکړه.*

هیله لرم چې خپل ځواب به مو موندلی وي. الله سبحانه و تعالی په هر څه پوه او د حکمت څښتن ذات دی.

**ستاسې ورور عطا ابن خلیل ابو الرشته**

**۱۴۴۰ هـ.ق د محرم ۱۹مه**

**۲۰۱۸ م د سپټمبر ۲۹ مه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**